# د اختر میاشت

ځلان ترجمه ډاکټر محمد زبیر حسرت

د وړوکي اختر د میاشتې په حقله د پېښور د پخواني او تاریخي جومات قاسم علي خان د فېصلې نه پس چې کوم صورت حال پېدا شو هغې ته په افسوسناک وئیلو هم د سړي تسلي نۀ کېږي، ځکه چې دا ځل الیکټرانک مېډیا او د مرکزي روېت هلال کمېټۍ چئیرمېن مفتي منیب الرحمٰن د شریکو کوششونو په وجه خبره صرف د اختر د میاشتې د متنازع کېدو پورې محدوده پاتې نۀ شوه، بلکې په دغه بهانه یو طرفته زمونږ د صوبې او بل طرفته د دې صوبې د عالمانو سخته کردارکُشي وکړې شوه. تر دې چې د مفتي منیب الرحمٰن په رنګ عالم دین هم د متانت او سنجیدګۍ او صبر و تحمل ټولې غوښتنې شاته لړه کړې او د سیاسي مشرانو سره ئې د یو داسې بحث بنیاد کېښودو لکه هغه چې یو سرکاري ملازم نۀ وي بلکې د سېنټ یا قومي اسمبلۍ ممبر وي.



د شریعت د ادراک لرلو باوجود منیب الرحمٰن صاحب د هغه تاریخي جومات قاسم علي خان د پاره د دُکان لفظ استعمال کړو کوم چې د دې صوبې د اتحاد علامت ګڼلے شي. کوم جومات ته چې دے دُکان وائي د هغې په حقله دومره عرض کول ضروري دي چې دې جومات د څومره اولیاء کرامو زیارت کړے دے، د هغې شمېر نشته. کوم مفتي شهاب الدین پوپلزي ته چې منیب صېب بدې ردې وائي هغه د مفتي اعظم مولانا عبدالرحیم پوپلزي ورارۀ دے او د دې صوبې د خلافت کمېټۍ د روح روان حضرت مولانا عبدالحکیم پوپلزي نمسے دے. د روېت هلال کوم کار چې مفتي منیب صېب د ۲۰۰۱ نه تر سره کوي، دا خاندان دغه ذمه واري د تېرو درېو صدیو نه ترسره کوي او د کوم کار چې منیب صېب اجرت اخلي هغه کار د قاسم علي خان جومات اکابرین في سبیل الله کوي او د ټولو نه لویه خبره دا ده چې د قاسم علي خان جومات خبره په ټوله صوبه کښې منلے کېږي او سږکال خو د هغوي فېصله

صوبائي حکومت هم تسلیم کړې وه.

داسې ډېر کم شوي دي چې زمونږ په صوبه کښې د روژې او اختر په موقعه د مرکزي کمېټۍ خبره منلې شوې وي خو داسې هله ګُله چرته چا وړاندې نۀ وه جوړه شوې، وجه ئې دا وه چې چرته هم د روېت هلال کمېټۍ بل چئیرمېن داسې متنازعه بیانونه نۀ دي ورکړي او نۀ ئې داسې لهجه استعمال کړې ده، ځکه چې د دې کمېټۍ پخواني مشران د دې خبرې نه خبر وو چې دا کمېټي د وړاندې نه یو متنازعه حېثیت په دې وجه لري چې په پښتونخوا کښې د رویت هلال فېصله د هغه ځائې عالمان صاحبان کوي اوس کۀ خامخا د دغه علماء کرامو د فېصلو غندل شروع شي نو ملکي یووالے به نور هم متاثره شي.

متاسفانه مفتي منیب صېب د دې خبرو پروا ونۀ کړه. دۀ کۀ یو طرفته د قاسم علي خان جومات دپاره نازیبا الفاظ استعمال کړۀ نو بل طرفته ئې په مفتي شهاب الدین پوپلزي بې ځایه تنقیدونه شروع کړل، بلکې په جذباتي توګه دومره مجروح شو چې د اې این پي د مشرانو په حقله ئې چې کوم الا بلا ووې او د علمي مسائلو او شرعي نکاتو په حواله چې منیب صېب کومه لاره خپله کړه هغه د علمیت او شریعت دواړو سره متصادم وه. مثلاً هغۀ چې د اې این پي د رهنما او وفاقي وزیر الحاج غلام احمد بلور چې د اخترونو او روژې د میاشتې لیدو مسئله





په سعودي عرب د پرېښودلو کومه خبره کړې وه نو منیب صېب د شرعي نکتې د وضاحت په ځائې دا دلیل ورکړو چې پاکستان یو ازاد او خودمختار ملک دے او دا چې د سعودي عرب طریقۀ کار ځان له دے. اولنۍ خبره دا ده چې سعودي عرب د پاکستان نه زیات ازاد او خودمختار دے، د دې دپاره د څۀ دلیل ضرورت نشته. اوس اوس چې د نوازشریف او پرویز مشرف په ډرامه کښې سعودي عرب کوم کردار ادا کړو د دې نه خو مفتي منیب صېب له پوهېدل پکار وو چې ازاد مونږ یو کۀ سعودي عرب. دوېمه خبره خو منیب صېب د دې نه هم عجیبه دا وکړه چې د سعودي عرب طریقۀ کار جدا دے. د جدا مطلب څۀ دے؟ چې څۀ هم طریقه کار وي د شریعت نه یو سُوتر اخوا دېخوا نۀ شي کېدے.

کله چې مونږ په مکه مکرمه کښې جوړې کعبې شریفې ته مخ کړو او مونځ کوو او په مدینه منوره کښې د دواړو جهانونو د سردار د پاکې روضې سره وابستګي د دین او دنیا د کامیابۍ یواځینۍ لاره ګڼو نو د خپل پاک نبي(ص) د دواړو ښارونو سره یو



فرض او مسنون تهوارونه ولې نهٔ شو نمانځلې. خبر دا خو زما ذاتي رائې ده. راځئ چې وګورو چې د دين امامان څهٔ وائي د فقه حنفيه معتبر کتاب درمختار وړومبي جلد ۱۴۹ مخ وګورئ کهٔ د مغرب اوسېدونکي مياشت ويني نو د مشرق اوسېدونکيو له پکار دي چې هغوي هم په دې رويت عمل وکړي. د امام ابن تيميه دا روايت د فتاویٰ د پنځم جلد په ۱۱۱ مخ دا سې درج دے خلاصه دا ده چې کوم سړےد روژې نيولو يا قربانۍ کولو دپاره په صحيح وخت د مياشتې ليدلو نه خبر شي نو هغهٔ ته هم په دغه روايت عمل کول پکار دي. د اسلام د نصوصو او سلف دا منشاء ده، دا رويت په يوه فاصله يا يو ملک کښې قبدول به د شريعت هم خلاف وي او د عقل هم.

مولانا رشيد احمد ګنګوهي صېب په کوکب دري شرح ترمذي صفحه ۳۳۶ ليکي "کهٔ په کلکته کښې مياشت د جمعې په ورځ ولېدې شي او په مکه کښې د زيارت په ورځ او کلکتې والو ته پته ولګي چې روژه د زيارت په ورځ شروع شوې وه نو کله چې هم دوي ته پته ولګي اختر به د مکې والو سره کوي او د وړومبۍ روژې به قضا نيسي.



مولانا اشرف علي تهانوي فرمائي "د يو ښار د اوسېدونکو مياشت ليدل د بل ښار د اوسېدونکو دپاره هم حجت دے کهٔ په دغه دواړو ښارونو کښې هرڅومره فاصله ولې نهٔ وي، تر دې چې په مغرب کښې مياشت ولېدې شي او دا خبر په معتبره طريقه د مشرق اوسېدونکو ته ورسي نو په هغوي هم د هغې ورځې روژه نيول فرض دي. (دين کی باتين صفحه ۱۸۲).

مولانا امجد علي د "بهار شريعت" د دوېم جلد په ۱۰۸ صفحه د رويت هلال په حقله ليکي "کهٔ يو ځائے کښې مياشت وي نو دا صرف د هغه ځائے د خلقو دپاره نهٔ ده بلکې د ټول جهان دپاره ده" مفتي اعظم مفتي کفايت الله په خپل مشهور کتاب "تعليم الاسلام" کښې هم دا طريقه ښودلې ده. برېلوي علماء کرام هم دا عقيده لري.

د دې دليلونو ورکولو نه مونږ په مفتي منيب صېب دا زور هرګز نهٔ راوړو چې دوي د ائمه سلف او مجتهدينو او د علماء عصر د خبرو په رڼا کښې په خپل موقف نظر ثاني وکړي. په خپل موقف ودرېدل د هغهٔ حق دے خو دوه خبرې دي چې يو خو په دليل خبره پکار ده، هغه د افتاء د اصولو نه خبر دے، هغه ټيک وائي چې په شهادت کاذبه يو عالمِ دين هم د رويت فېصله نهٔ شي کولے" د دې نه انکار نهٔ شي کېدے چې په

شهادت کاذبه رويت خو څۀ چې د هيڅ يوې دنياوي يا ديني مسئلې فېصله هم نۀ شي کېدے. خو د دې دا مطلب نۀ دے چې په قاسم علي خان جومات کښې ناستو عالمانو په شهادت کاذبه فېصله کړې ده. د هغوي د شهادت حقه و صادقه د شريعت د کومو اصولو سره متصادم دے؟ دا مفتي صېب ونۀ وئيل، کۀ هغه د رويت په حقله کومه ذاتي نظريه لري نو د هغې دپاره دې سرکاري حېثيت پکار نۀ راولي، دوېم دا چې کۀ هغه د علمائے دېوبند او علمائے برېلوي او امام تيميه نه زيات قوي دليل لري او يا کۀ مفتي صېب ته په دين، شرعې د دې بزرګانو نه زيات عبور حاصل دے نو پکار ده چې د دليل او برهان خبره وکړي.

مفتي شهاب الدين پوپلزے د اې اين پي مشر جوړول څومره اذيت ناک طنز او يوه غېر متعلقه خبره ده. آيا د دې اختر اعلان د اې اين پي په مرضۍ شوے کۀ د شهادتونو په رڼا کښې؟ اې اين پي صرف په دې وجه رابنکل د انصاف خبره نۀ ده چې هغوي حکومت د خپلې صوبې د علمائے کرامو د شرعي فېصلې احترام وکړو. د رويت هلال کمېټۍ مرکزيت په وړومبي ځل نۀ دے چېلنج شوے، دا کمېټي د دې دپاره قائمه کړې شوې وه چې اتحاد قائم کړے شي او په عباداتو او مسنونو تهوارونو کښې يووالے پېدا کړے شي خو په ۱۹۷٤ کښې د دې کمېټۍ د قيام نه واخله تر دې دمه دې کمېټۍ دا مقصد نۀ دے پوره کړے نو بيا مفتي منيب صېب ولې داسې سره لمبه کېږي دا خو څۀ د چا ذاتي کمېټي نۀ ده، کۀ په پاکستان کښې څۀ نظام وي او سرکاري ملازمانو په کوم دائره اختيار کښې کار کولے نو مفتي صېب ته به د ګورنمنټ سرونټس کنډکټ رولز ۱۹٦٤ پته خو وه چې د دۀ منصبي فرائض اتحاد پېدا کول دي نۀ چې نفرت او نفاق خورول. مونږ هغۀ ته ګزارش کوو چې په خپله لهجه کښې نرمي پېدا کړي، مونږ دې مسئلې له د سياسي رنګ ورکولو سخت مذمت کوو.

د مفتي منيب الرحمان د مختلفو ټي وي چېنلونو سره د خبرو اترو نه پس مونږ ته د سينئير وزير بشير احمد بلور هغه خبره اوس ډېره رايادېږي چې په يو ټي وي چېنل ئې په پوره يقين کړې وه چې زمونږ د صوبې علمائے کرام زيات لوستي او په دين پوهېدونکي دي، تر اوسه زمونږ د صوبې يو عالم د مفتي منيب په رنګ ژبه او لهجه نۀ ده استعمال کړې، کۀ بشير احمد بلور رويت هلال کمېټۍ ته دکان وائي (داسې وئېل پکار نۀ وو) نو رويت هلال کمېټي څۀ په شعائر الله کښې نۀ راځي او نۀ د دې شرعي حېثيت ثابت دے خو کۀ د دې په ځواب کښې مفتي منيب صېب قاسم علي خان جومات ته دُکان وائي نو دې ته به څوک د يو عالم دين لهجه ووائي؟

